# د افغانستان اسلامی امـــارت
# د کانونو او پټرولـیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۳

نېټه: ۱۱/تله/۱۴۰۱

# له ننګرهار او لغمان ولایتونو څخه د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لېدن





تېره اوونی د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) په مشری د دغه وزارت مشرتابه پلاوي د ننګرهار او لغمان ولایتونو څخه لېدنه وکړه. د دغې لېدنې په ترځ کې د یاد وزارت مشرتابه پلاوي د لغمان او ننګرهار ولایتونو د کانونو او پټرولیم له ریاستونو څخه لیدنه وکړه. یاد پلاوي د پروژو د تطبیق او د کارونو د پرمختګ په برخه کې شته ستونزې وڅېړلې او په یادو ولایتونو کې یې د کانونو او پټرولیم وزارت د پروژو په ځانګړي ډول د کارکوونکو او د کانونو د قرارد ادونو د ستونزو او مشکلاتو په اړه له اړونده مسوولینو سره خبرې وکړې او ورته یې د شته ستونزو د حل لارو او د چارو د لا ښه والي په موخه لازمي لارښوونې وکړې.
همدا راز د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د تورخم بندر له ترازوګانو څخه هم لېدنه وکړه او د ډبرو سکرو د انتقال په اړه یې له موټر چلوونکو او اړوندو مسوولینو سره د خبرو کولو په ترځ کې ورته لازمي لارښوونې وکړې.



# د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د قطر هیواد د سولر او انرژۍ ادارې له رئیس سره وکتل

ونو او پټرولیم
ارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) د قطر هیواد د سولر او انرژي ادارې له رئیس سره چهارشنبه ۶ /۷ /۱۴۰۱ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل . د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د قطر هیواد د سولر او انرژۍ ادارې رئیس ښاغلي سلیم عباسي ته د ښه راغلاست تر څنګ د دغه هېواد له دوستۍ او مرستو مننه وکړه او ویې ویل: قطر له لسیزو راهیسې له افغانستان سره دوستانه اړیکې لري او باید دا اړیکې لا پیاوړې او تل پاتې شي .د قطر د سولر او انرژۍ ادارې رئیس د کانونو او پټرولیم وزارت له سرپرست څخه وغوښتل، چې د قطر هېواد د پانګوالو لپاره دې د کانونو په برخه کې د پانګونې زمینه برابره کړي. څو هغه پانګوال، چې د افغانستان په کانونو کې پانګونې ته لېواله دي پانګونه وکړي، چې له دې سره به د هیواد عاید زیات او ورسره به د هیواد اقتصادي کچه لوړه شي او بېوزلي به هم ورسره ختمه شي . په پای کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست او د قطر هیواد د سولر او انرژي ادارې رئیس د جیولوجیکي سروې له موزیم څخه لیدنه وکړه.



# د ریاست الوزراء محترم مقام له لوري د کانونو او پټرولیم وزارت ستاینه

ونو او پټرولیم
زارت اوونیزه




ستاینلیک/تقدیرنامه

د کانونو او پټرولیم وزارت مشرتابه، ویاند، او رئیسان د دولت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کي (ملت ته د حکومت د یو کال حساب ورکولو) په پروګرام کي د فعالي ونډي اخیستلو او ولس ته پر وخت د حساب ورکولو له امله د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم مقام له لوري وستایل شول او د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر د کابیني د غړو په شتون کي د کانونو او پټرولیم وزارت ته ستاینلیک ورکړ او د دغه وزارت له کارونو او لاسته راوړنو څخه یې نړی مننه وکړه.



# د تخار ولایت کاني ظواهر





تخار ولایت د افغانستان په شمال کې پروت دی، چې د شمال له لوري له تاجکستان، د له ختیځ لوري له بدخشان، د جنوب له لوري له پنجشیر او بغلان او د لوېدیځ له لوري له کندز ولایت سره ګډه پوله لري.
د احصایې او معلوماتو ملي اداري د کلني نفوس اټکل له مخې د دې ولایت نفوس شاوخوا ( ۱،۰۰۹۳،۰۹۲ ) تنو ته رسیږي.
د افغانستان د جیولوژیکي او د کانونو اړونده ځانګې لخوا تر سره شوې سروې ګانو له مخې، یاد ولایت بې شمېره معدني ظواهر او کانونه لري، چې د هغې له جملې څخه په سمتي سیمه کې طلاي پاشان، په تاقچه او چال کې مالګه، انجیر، حصار او نورابه، په فرخار کې کوارتز، اسبست د دهنه سلطان په سیمه کې، د دبرو سکاره او معدني اوبه په فرخار او بازارک کې موقعیت لري.



# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید

کانونو او پټرولیـ
وزارت اوونیزه








د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونۍ کې د ۱۴۰۱/۶/۳۱ نېټې څخه تر ۱۴۰۱/۰۷/۰۶ نېټې پورې (627,709,039) شپږ سوه اوه ویشت میلیونه، اوه سوه نهه زره او نهه دېرش افغانۍ او (1,125,000) یو میلیون، یو سلو پنځه ویشت زره امریکايي ډالره عوا ید راټول کړ ي.

**د امتیاز خاوند:**
**د کانونو او پټرولیم وزارت**

**مسوول مدیر:**
**شمس الدین (مصلح)**

**ترتیب او تنظیم :**
**استاد نجیب الله (رحیمي)**

**طرح او دیزاین:**
**محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)**

ادرس: عبدالحق ځلورلاري، کابل، افغانستان    د اړیکو شمیره: +93202304455    الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf